مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۰/۰۱/۱۳

# کله خوښي، کله ارام راکوي

یاد دې راځي، کله خوښي کله ارام راکوي
کله مې پاس نه ښکته پرېباسي، ناکام راکوي

ځان غولوم، ځان غولوم، کله نور هم غولوم
د سهار ورانګي ستا د مینې یو پیام راکوي

زه په یادو ځان تېرباسم، خوشالومه زړګی
خو زمانه دې په نه شتون راته دشنام راکوي

سترګي پر لار د یو خواږه پیام د نوش ومه زه
د نه راتګ احوال دې بیا د زهرو جام راکوي

ګورو به څه کېږي انجام د دې حالت په پای کې
دا صداقت به مې په پای کې احترام راکوي

۲۰۱۹/۱۰/۰۶
هېدرسلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ